پوهنمل حاجی محمد نوزادی
دنمارک، ۲۰۰۸/۰۲/۱٤م

# د حمید بابا د خیال پرآسمان د خال وخط اوریځې

اوس دفکرتوره واچوه حمیده
چي دي نشته په پښتو کښي څوک حریف

هغه وخت لادښوونځی زده کوونکی وم چي دشعرلوستلو سره مي مینه وه . که څه هم زمادعلاقي وړزده کړه ساینسي مضونونه وه ، خو په ټولنیزو مضمونونو کښي یوازي شعر وو چي کله ناکله به ئي په خپلو سترګکونو سره دادب ترکوڅي پوري په ځان پسي کشولم . کله به ئي وصال ته دومره تطمیع کړم چي الجبرته به مي جبراً شاوګرځوله اوکله به ئي بیا دهجرانه دومره وډارولم چي په ازموینه کښي دنمرودترلاسه کولو پخاطر به مي لادشاعردسوانح اودکلام دنمونو ولوستلوته زړه ښه کولاي نشو . ماته هغه وخت هرنظم شعر وو او شعرمي یوازي په منظومه بڼه کي پیژندې . استعارو اوتشبهاتو مي له شعر نه زړه توراوه ، هرڅه مي په ډانګ پیئلي بربنډ خوښول . شاهد له همدي کبله به وو چي دخوشحال خان دابیت راته ډیرپه زړه پوري ښکاریده :

ز ه خوشحال کمزوری نه یم چي به ډارکړم
په ښکاره ناري وهم چي خوله ئي راکړه

دعبدالحمید ماشوخیل دکلام دنمونوڅخه دابیت چي دبدیع اوبیان په مضمون کښي مولوستي وو، اکثره وختونه زما همزولواو یا یوه ټولګی لوړو زده کوونکو زمزمه کاوه :

خط پرمخ دصنم راغي ، که سپوږمی شوه په هاله کښي
دائي غاښ په خوله کي زیب کا ، که ژاله شوه په لاله کښي

دلوړ بیت دوهمه نیم بیتي راته دلومړی په پرتله ډیره خوندوره ښکاریده . ښایي دابه پدي خاطر وو چي په لومړی برخه کښي راته هغه وخت دمخ د ( خط ) او دسپوږمی د ( هاله ) ترمنځ تشبهه په تکلیف سره دپوهیدو وړ وه . دخداي حق خبره خو داده چي همدا اوس هم چي ښایي دسل ګونو شاعرانوپه زرګونو شعرونه اونظمونه به مي لوستي وي ، خوبیاهم د(خط اوخال ) ترکیبونه په ځانګړی توګه دحمید ماشوخیل په شعرونو کښي راته ډیر ژور ښکاري اوکله ناکله رانه لاره ورکوي . ترهغه ځایه چي خبره د(خال ) سره تړاو نیسي نونژدي دټولو شاعرانو په شعرونو کښي هغه په یوه یا بل شکل موندلاي شو . ان داچه رحمان بابا هم دیوه ملنګ او صوفي شاعر په توګه چي تل ئي دنیااو مافیهاتر عقبا جارکړیده ، په خپل یوه شعر کي د ( خال ) یادونه داسي کوي :

که ئي خال غلام دمخ دي
ز ه غلام یم د غلام

مګر ( خط ) بیاد( خال ) ترڅنګ په خپل وار هغه پوروني ( استعاره ) ده چي دحمیدبابا ذهن اوخیال ئي دومره محاصره کړي چي کولاي شو داشعارو ټولګي ته ئي د ( خط ا وخال ) دیوان ووایو . که څه هم درحمان بابا په دیوان کښي هم داسي بیتونه یو نیم ځای ترسترګو کیږي چي لرترلږه په شکلی لحاظ خو ماشوخیل لوستونکي ته ور پیادوي ، لکه دا ځیني بیلګی :

ورقونه لټوم د هر مکتوب = پکښي غواړم خط وخال دخپل مطلوب.
# # #
چي دیار دخال وخط نښي پکښي وی = زوړند سر په موتاله دکتاب خوښ یم
# # #
دبل خط په عبارت به څه نظر کا = چي نظرکاندی داستاپه خال وخط څوک
# # #
خط دی تورحرفونه مخ دی پاڼی دکتاب دی = شغل دکتاب دی بل کتاب راځخه یوور
# # #
په رخسار چي دی د خط غبارخرګند شه = سربلنده شوه فرقه دخاکسارانو
# # #
ما دعشق په درس کښی نورڅه لوستي ندی = بیله زلفو، بیله خطه ، بیله خال


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

###
مخ دی اور خط دی سبزه ده زه حیران یم = چی سبزه په اورکښی ښنګه زرغونیږی
###
باریک خط ئی زلفو لاندی کړ رحمانه = مورچه ګان دشپې له مخه پایمالیږی
###

خو ددي خبري ثبوت به سخت وي چي وويل شي ددنيا دتارک صوفی عبدالرحمان اود ساده رويو په ميو مست حميد ماشوخيل دواړومطلب به لدي استعاري نه يوشې وي . نشم ويلاي چي دماشوخيل نه به وړاندي نورو شاعرانو پدي هکله ترکومه کچه او په کوم مطلب يادونی کړي وي ،خو له ده نه چي مي وروسته که دځينو کسانو په شعرونو کښي يونيم ځاي داشې ترسترګو شويوي ، ښايي دده تراغيزې لاندي به ئي تکرار کړيوي .
داچي د ( خط ا و خال )نه به په ځانګړې توګه دمومندو دنومړی موشګاف هدف څه وي ، هغه به ده ته پريږدولکه دامتل چي وايي : دنارينه وو راز پټ ښه دي .

خو هغه څه چي يادول ئي غواړم دادي :
مادخپل يوه فرهنګي دوست او شاعر ښاغلي عبدالمالک بيکسياردشخصي کتابتون نه يوه ورځ دحميدماشوخيل يوډير زوړ ديوان امانت واخيست چي دپيل ځومخه ئي دحالاتو بادونو تري وړي دي مګر دپاي مخونه ئي دنيکه مرغه خوندي پاته دي . هلته د ديوان دشعرونو تر ختم وروسته داليکنه شويده : ( تمام شد ديوان عبدالحميد بزبان افغاني . بتاريخ يوم جمعه هژدهم شهر جمادی الاول .سنه ١٣٣١ هجري المعلي ) .
که څه هم په لوړه سنه کښي دهجري شمسي يا هجري قمري يادونه نده شوي ، خو وروسته څوکرښي داشتهار په خاطر ليکل شوي چي دکتاب ختم ١٩١٣ ميلادي ښودل شويدي . دکتاب د اشتهاري کرښو په ترڅ کي يادونه شوي چي دکتاب قلمي ليکونکي مصنف صاحب حاجي ملاعبدالغفارکندهاري دي . نومړی دټول کتاب په حاشيو کښي دځينو مشکلو لغاتونو اوجملو تعبيرونه په ساده دري اوکله ناکله په پښتو ژبه ليکلي دي .
د عبدالحميد ماشوخيل دديوان دغه قلمي ليکونکی دنومړی کتاب په اتم مخ کښي ددي بيت:
څوک دي نه غندي نوخط ښکلي ، حميد ته
قبلوي د ګل اغزي بلبل زما
په اړه د( نوخط ) دتعبير اوتفسيرپخاطر په ورسره تړلي حاشيه کښی داسي ليکي ( وخطش کنايت از پوشيدن وجه است بعوالم اربعه چون عالم خلق وعالم مثال وعالم ارواح وعالم حقائق واين هرچهار نسبت بلطافت رويش کثيف اند . چنانچه ميرزا ګويد : دلطيف دبيحدي تعريف پخو کړم = چه تمام کثيف ئي رش پرمخ نيولي )
همدارنګه دکتاب په نهم مخ کي ددي بيت:
د نو خطو دُرُشتي زما اشتي ده
په اغزن بوټي ارام کا عندليب زما
د ( نوخط ) تعبير بيا دلته داسي کوي ( ونوخطيش کنايت ازتجديد شيون است همه ممکنات را درهر ان )
نپوهيږم چي منصف صاحب به داتعبيرونه دکومو دليلونو پربنسټ ترسره کړي وي او څومره به هغه واقعيت ته نژدي وي کوم چي د موشګا ف شاعر فکر وژورخيال ئي په هکله هسي زولانه دي چي نه ځان لدي بند نه ايستلاي شي اونه هم دزړه درد په ښکاره توګه چاته ويلاي شي . کله دخط په راتلو خوښي څرګندوي چي دساده رويو کبر وناز ئي کم کړ اوکله بيا ساده ( بي خطه ) مخ ترخط لاندي داوريځي په منځ کي ورته قدري سپوږمی ښکاريږي ، ځکه نوخطانوته داحق ورکوي چي بايد ناز وکړي . کله ئي دخال وخط په يوه خيال روح د ختن دملک آهوګرځي ، کله هم پرخوږه زنه باندي دخط راتګ ده ته لکه مچی ښکاري چي دشاتو پرکاسه راټولي شوي وي او کله کله خوئي پرساده مخ دخط نه زړه دومره زوريږي لکه پر ګل چي دهاتيانو غوبل راغلي وي.
لنډه خبره داچي ددي ليکني څخه زماموخه دانده چي دحاجي صاحب ملاعبدالغفار تعبير بيځايه يا پرځاي ثابت کړم. داتوان هم دکانو اوځمکي پيژندني ديوه ماهر په توګه په خپل قلم کي نه وينم چي دبديع او بيان دځانګړتياوو له مخي دحميد په ديوان کښي دخال وخط دکنايو په هکله شنني اوڅيړني وکړم . همداګړی مي يوازنی موخه داده چي پدي اړه دنورو صلاحيت لرونکو مسلکي څيړونکو سره په دغه کارکي مرسته وکړم . مادحميد ماشوخيل مومند په ديوان کښي ټول هغه بيتونه او غزل ، کوم چي دخال اوخط په هکله دده د اه لوګی دي او په غزلو کي ئي زماترسترګو شوي ، دلته مي راټول کړي دي . دمسلکي څيړونکو او شوقي لوستونکو څخه مي هيله داده ترڅو دخال اوخط


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

کنايي او استعاري دادبي ښيرنيزو ارونو له مخي وڅيړي ، اړوند اړخونه ئي برجسته او دمصنف صاحب دتعبيرونو دليلونه او ريښي په ګوته کړي . او داهم دخال او خط په هکله د موشګاف عبدالحميد دخيالونو لړی :

****

چي په مخ ئي زدوګير دخط اغاز کا = نوربدل دساده رويو ناز په نياز کا
دښه مخ هماي هله کا په چاسيورۍ = چي شهپر دخط وخال راوړي پروازکا
خاص خلوت دښکليوعام په وخت دخط شي = کم قوت سړي له هرچاسره راز کا
د اوريځي مياشت قدري وي په ليده کښي = نوخطان بي ځايه نه کاندي که نازکا

****

وابه نه ړوم نورمخ له ساده رويو = که دخط اره مي کښيږدي په تندي بيا

****

ښوک دي نه غندي نوخط ښکلي حميد ته = قبلوي د ګل اغزي بلبل ځما

****

دنوخطو دُرُشتي ځما اشتي ده = په اغزن بوټي ارام کا عندليب ځما

****

دارموز کا ديارخط په ماته ژبه = چي خوږه کړه نن ساعت هرچاته ژبه

****

مشک دي هسي ستاوخط ته = لکه مشکو ته تراب

****

لګي لا دخط په وخت ديار عتاب سخت = وي دشپي باد وباران سيل وسيلاب سخت

****

دا افسوس کا خال وخط دنوخطانو = چي ا شنا شو دحميد پهند برات

****

که هرڅو په خط نوخطه کاندي توره = زيربه نه کا دغه جهل دراجپوت

****

دنوخط دخال وخط په يوه خال کي = دختن دملک اهو شو ځما روح

****

هاله دُر دعاشق اوښکي شي په ښکليو = چي ئي نوي شي دخط بهار له مخه
اُمرا دحسن تل ځي په رکاب کښي = چي ئي پاڅيده دخط غبارله مخه

****

دتورخط ليکه ئي ګډه په سپين مخ شوه = تور وسپين ځما دسترګو شو پدا ګډ

****

په راتله ديار دخط حسن پايمال شي = لکه وکاندي په ګلو ښوک غوي مند

****

دخط خيال مي دي له سره تلونې ندې = که سايه پري دهماي شي برابره

****

له خوارۍ ديار په خط زړه ښه کومه = دغريب د پښو وکيښ شي خار په خار

****

خدايه خط ديارله مخه لرې ليري = په اسلام باندي برمشه لاس دکفر
هغه مخ چي مي کعبه وه د دووسترګو = مسلط کا باندي خط مواس دکفر
وکه جوش دخط سياهي ديار په مخ کښي = که نمرود کا بيت الله نخاس دکفر

****

ژر په ژر به ئي سياهي دخط پښيمان کا = دا دمخ په روښنائي باندي مغرور

****

خال وخط دي هسي چاري په مخ وکړي = لکه ګل شي دهاتيانو په غوبل سر

****

ليکه دتورخط ديارله مخه شوه چاپير = ښهر داسلام کړ غلبي دکفر ګير


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

ونړاوه سد سکندر جوجو ما جوجو = اوکه خال وخط ديار په مخ شوه رابرسير
****
لاکه مخ له خال وخطه آب وتاب ډير = ولي تاب وي داوريځي دافتاب ډير
زيات شي کبر دباغوان په نوبهار کی = نوخطان کاندي په ځان ناز وعتاب ډېر
يوحميد له توره خطه شکوه نه کا = دي بلا کړه عالمات خراب تراب ډير
****
په نوخطو پسي تللي زړه موند نشي = هغه ورک شو چې په شپه داور په سوي ولاړ
****
سپلنۍ غوندي په اور دنوخط حسن = سرترپايه سره لمبه شم شنه لوخړه
چي ور وښود ښکلې مخ خط دبخښني = اوس مي زړه ورسره کا ناحق جګړه
****
منت بار دي يم دړيرې داغاز = چي ئي کم کړ ستا دحسن کبر وناز
چي غريب شي په وطن دنوخطيَ = ګوندي اوس شي په کرم غريب نواز
****

که ګيله ديارله خطه کړم ګرم نه يم = زرغونه په سمن زار شو زما زوز
****
په رخسار باندي دي کښلي توري پريوتي = پر ورځي ظالم تورخط اخير جنګريز
****
که ئي راکړ خال وخط وماليچن لاس = بياپر دوست باندي بر مشه ددښمن لاس
ساده روي خط ته هوس له ساده ګې کا = وچمن ته پريښود نشي دچمن لاس
نوخطان واړه ارمان که باري ځه کړه = نه رسيږي دپرون په چاري نن لس
****
لائي ز ه دبي مختوبه چورچور نات يم = بيائي که راباندي خط لښکر دپاس
****
آب وتاب راته ښئي دنوخطانو = په خزان کښي دبهار دګلو جوش
دا نګار دخط سياهي راوړه په مخ کښي = که پادشاه دزماني ئي خرقه پوش
****
تر ساده حسن نوخط بي وياړه کوت شي = دليچنو سترګو سيورۍ وي ترلمرخوښ
زړه مي هسي په نوخطو ښکليو پري وت = لکه پريوزي ودوهي ته قلندرخوښ
****
هره ورځ مي په بالين خضر حضريږي = چي ئي خيال دخط وخال شو راته پيښ
****
نوخطان دخط پوخت بي وخته ناز کا = رساوه شي په دغه ادينه فيض
****
چي مي وليده په مخ ددل ارام خط = بياموندہ دازاديه ما غلام خط
خلاص مرغه ددام په دام کله ويسا کا = په نيوه ځما ناحق غوړوي دام خط
داشنا دمخ دخط هيبت مي وخوړ = چي مي وليد په شرابو کښي دجام خط
دبهار اوريځي نه وي بي بارانه = په رښتيا که دبوسي زيرۍ پيغام خط
دمقصود در مي ونه ليده تياره شوه = صبحدم ديار دمخ کړ راته شام خط
دصحرا هوسۍ ارام په ميږيتون کا = ورکوي شوريده دل لره ارام خط
دلداري ديار پکار تر خط پخوا ده = څه پکار که ئي دلدارکه په ناکام خط
لکه نه بي دوده اور بي اوره دودشي = هسي راکړ له خوبانو انتقام خط
پري کوي ئي هومره زړه له شوق و ذوقه = ځوکوي ديار په مخ کي انتظام خط
زمانه به دهر ښکلي بازار سوړکا= ماته ژبه کا حميدته داکلام خط
****


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

دائي خط نشوونما کاندي له مخه = یا نری نری لوګی ځي له ځراغ
****
هسي زیب کا ښکلی مخ په خط وخال کي = لکه واغوندي مکي ته تور غلاف
****
په راتله دخط چمن حسن ایمن شي = خداي دي نه کا په کفاروکښي غریب ځوک
****
داځما د اه لوګی په کښي لیده شي = ائینه دي دمخ نده په خط زنګ
****
زلزله دیار دخط دراتلو ګوره = نړوي مي پر تندي اسمان د مشکو
چي اوریځ دیار دخط په خاطر راشي = وو روي مي ترلیمو باران دمشکو
دا ئي خط نشو ونما کاندي په مخ کښي = که په سپینه ځمکه ځي کاروان دمشکو
****
خال وخط ئي هسي چاري په مخ وکړي = لکه ګل شي تر پښو لاندي دهاتیانو
****
په فریب دساده دل داساده رویه = کښي ایستم دخال وخط په خرخښو
ځکه زه کوم اسره دیار وخط ته = اسانیږي مشکل متن په حشو
****
هومره ښه دي خال وخط راسره وکړه = چي را وي ایستم له اوره په اغزو
****
چي تر زلفو لاندي خط راوړي انبوه = یار له یار سره نه کا هسي دروه
****
چي مشغول داستا دمخ په خال وخط شوم = مشغولا راخخه پاته دکتاب شوه
****
چي پر مخ دي دخط لیکه دوتا راغله = ګویا مخ لره دي توره بلا راغله
****
ژر په ژر په ظالم حسن دبتانو = کاندي خداي توره بلا دخط نزول
****
چي مي تن ملک دختن شو ځما لال = دا اثر ګنم داستا دخط وخال
ارایش له الایشه لعل مومي = په راتله دخط وخال مه شه ملال
****
ورته مه ګوري هرګز په سپکو سترګو = نوخطان دي خرقه پوش بالانشین
تر تور خط لاندي ئي زنه هسي زیب کا = لکه تولي شي مُچي په انګبین
****
خط پرمخ دصنم راغي که سپوږمی شوه په هاله کښي = دائي غاښ په خوله کي زیب کا که ژاله شوه په لاله کښي
خال وخط په ګلګون مخ کښي ، ددلبرو دامثال که = لکه پروت وي غزیدلي ، خرقه پوش په دوشاله کښي
****
په نوخط حسن اثر دعاشق اه کا = دا پدي چي مسافر په زړه نری وي
****
په غبار کښي ئي دخط ګوره سري شوندي = سري سکروټي دي د اور په ایرو نغښتي
****
دنوخطو په صفت مي زبان ښبلي = چي تر دام لاندي دانه خوري مرغان ښبلي
دائي خط په کناره دمخ جنبش کا = که په خوان دشیرینیو مچان ښبلي
پاکبازان کړي په نوخطو ښکلومینه = پرسینه دشنوکوتروبازان ښبلي
****
دنوخطو دلبرانوپښیماني = دماښام دغریبانو حیراني
لکه کاندي خال وخط په ساده رویو = خزان نه کا په ګلشن داویراني


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

زد وگیر ئي دتورخط هسي هيبت کا = لکه ولګيري جنګ سلطاني
څه ګمنامه شوه دخط په هندوبارکښي = دخوبانو دښايست مسلماني
****
که د خط په خاکستر ځپلی نه واي = دمخ اور به دي تراوسه وملک سوی
****
که دي راغله په مخ څه شو دخط لړي = په ايرو کښي لکه لعل هسي رغړي
****
ښوبه خوب کوم ديار دخط له غمه = چي اغزي مي په ليمو کښي غړوی
****
له ساده مخه دصبر سبق چا ده = څو پيزي دخط په زير و په زور نشي
هسي شپه ديار دخط راباندي راغله = چي هرګز به ترقيامته سهر نشي
****
په راتله دياردخط ياران په دوک شي = باغ چي وتکيږي لاباغوان په دوک شي
****
ماته پيښه شوه خواري ديار له خطه = که بخښي چاته دولت پَر دهماي
****
يووړ خط صبر وارام ځما له دله = څه ارام په ميږيتون کا غزاله
په راتله ديار دخط ژړا بايده ده = ولي نخښه دباران وائي هاله
****
چي دخط په وخت اشناپالي حميده = رحمت باد په کفرستان کښي مسلماني
****
داشنا له خال وخطه معلوميږي = چي حميد به مسافردهندوستان شي
****
دنوخطو په وعده باندي زړه مه ږده = هغه ورک شي چي په شپه داور په لورځي
****
زد وګير ئي دتورخط ګوره په مخ کښي = په مکه دزنګيانو لښکر راغي
دائي خط په دا دروصل مشرف کړم = که هماي مي په تندي برابر راغي
داحميدديار دخط له غمه ژاړي = که باران دي دپسرلي په در در راغي
****

دا وو دخال او خط دلاسه دماشوخيل د دردونو زګيروی او اه وونو لوګی چي پدي توګه مي ځيرونکو او لوستونکو ته وړاندي کړ . ددوي دنورو ژورو څيړنو په هيله.

پای


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de